سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۲/۰۱

# زما عادت

خپلو هیلـو، په ښکلا یم مین کړی

ناهیلیـوبیـا، پـه ژړا یم مین کړی

زه د توري قهرمان د سیاست نه یم

دی عادت بانـدی بابا یم مین کړی

حوصلـه او صبـر ماتـه بلا شـوی

خپل نیکه به دی بـلا یم مین کړی

ننګ حیا را باندی ګرانه ده له ځانه

په دی دواړو پښتونخوا یم مین کړی

اورکی سوزمه خوچپ یم مجبوري ده

ډیر ادب په دی چوپتیـا یم مین کړی

راکوی به خود په مخ درنې ښپیړی

په وهلو پلار پخـوا یـم مین کـړی

خو افغان یـم د بـدل په اخستـلـو

هـم ادي هم می ابا یـم مین کـړی

انتظار کوه ز ما د مټ ګـزار ته

په وروستي ګزار الله یم مین کړی

**** **** ****



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com